د قریب الرحمن سعید ۲۰۱۲/۰۳/۲۶

# د سولي خبري اتري په کوم ځای کې دي ؟

دوه همه برخه

ج:دحزب اسلامي افغانستان او دکابل د سیاسي مسؤلینو تر منځ خبرې اترې:
دکابل سیاسي چارواکي او تر څنګ یی د سولي دعالي شورا تر نامه لاندی جوړ شوي هیئتونه د ډیرو ستونزو سره مخ دي ، دهغوی تر ټولو لمړی ستونزه داده چې هیڅ ډول واک او اختیار نه لري اونه د سولی له پاره کوم وړاندیز ورسره شته . هغوی د ناټو او امریکایانو همغه فارمول پر مخ بیایی چې په کي دمخالفینو نه غواړي چې وسله کیږدئ ، اساسي قانون و منئ او ددولت سره یو ځای شئ.
هغه وخت چي استاد رباني دسولي د شورا رئیس وو هغه تر یوه ځایه همدا کارونه دډیرو پیسو دورکړې په اساس تعقیبول . هغه هڅه کوله په ولایتونوکي د سولي شورا ګاني جوړي کړي ، او دهمدي شوراګانو له لاري یوشمیر مخالفین را ونیسي . داستاد رباني څخه مخته شاغلي صبغت الله مجددي هم دهمداسی یوه پروګرام مشری په غاړه درلوده ، چي بیا تري یو ستر تجارتي کار جوړ شو . ځکه یو شمیر کسانو به وسله واخسته اوبیا به یی دسولي همدي کمیسیون ته ځوا ب ولیږه چي ددغي او یا هغي ګوند غړي دي او غواړي چي تسلیم شي ، چي په دي توګه به یی پوره پیسي تر لاسه کولي ، که چیري دهغي کسانو شمیره وکتل شي نو څرګنده به شي چي تر اوسه پوري په زرګونو کسانو دا کار کړي او اوس یی هم یوشمیر وګړي کوي .خو حقیقت بل منګه دی ددولت مسؤلین اوپه ځانګړې توګه کرزي دي ته لیواله دي چي د ۲۰۱۴ کال یعني دخپلي دوری دپاي ته درسیدو تر مخه د اشغال په خلاف د راولاړ شوي غورزنګ سره اړیکي پیدا کړي او دسولي کومه لاره دځان له پاره و ټاکي . هغه څو ځلي د طالبانو سره د خبرو اترو وړاندیزونه کړي ، هیئتونه یی استولي ، دپاکستان سره یی په همدي مسئله باندی غورزی پرزی کړي ، ان تر دي چي اسلام اباد ته دخپل اخري سفر په وخت کي یی د پاکستان د صدراعظم ګیلاني سره خبرې پورته شوي ، چي بیا د اسلام اباد دبهرنیو چارو وزیري اعلان وکړ چي ددوی سره طالبان نه شته او نه یی ورته کوم درک معلوم دي .
دحزب اسلامی سره هم دکرزي اویا دسولي د شورا خبرې په همدی توګه رواني دي ، حزب اسلامي داخبرې په دي خاطر کوي چي که وتوانیږي دوې په دې قانع کړي چي داشغال په خلاف ورسره لاس یو کړي . حزب اسلامی تل په خپله طرحه اصرار کړي او ددوی څخه یی غوښتي چي که په دي اړه کوم بدلون لري نو ډاګیزه دی یی کړي . حزب هیڅکله او هیڅ وخت نه دي غوښتي ددی لاري کوم امتیاز تر لاسه کړي اونه امتیاز ترلاسه کولو ته کومه اړتیا لري.
امریکایانو هم حزب اسلامي ته وړاندیز کړي او ورته یی ویلي چي : په داسي حال کي چي حزب اسلامي په ولس کی پراخه موجودیت لري ، او کولي شي په ټولټاکنو کي ښې او مثبتي پایلي تر لاسه کړي نو ولي حزب سیاسي پروسي کي نه ور ننوځي؟ خو دحزب ځواب څرګند او ډاګیزه دي اوهغه دا چي تر هغي چي زمونږ سیاسي استقلال او زمکني تمامیت د اشغالګرو ځواکونو سره وي نو په هیواد کي به ټولټاکني څه ګټه ولري؟
په همدی اساس حزب خپل اخري هیئت چي ۲۰۱۱کال ددسمبر په ۲۹مه یی د بهرنیو ځواکونو دمسؤلینو د غوښتني په اساس کابل ته لیږلي وو ، دوباره هغه لوري ته و نه لیږه . دحزب امیر په دي اړه لیکلي چي : څرنګه چي هغوی تر اوسه زمونږ د وړاندیزونو په اړه کوم څرګند دریځ نه دي نیولي او نه ورسره دهیواد دبحران له پاره دحل کومه لاره شته نو په دي اساس حزب اسلامی نه غواړي هسي خپل وخت ضایع کړي او دخبرو اترو میز ته په داسي حال کي ورشي چي مخالف لوری غواړی خپلي غوښتني بیا بیا تکرار کړي . هغه د کرزي د حکومت او واک په اړه لیکي چي : ډیر قضایاداسي دي چي کرزي یی په اړه هیڅ واک نه لری ،دده شاوخوا چارواکي د سولي له هری هڅي سره مخالفت کوي . او بیا لیکي چي: زمونږ هیئت دامریکایانو په غوښتنه کابل ته تللی وو، دکابل دچارواکو سره یی دلیدلو تصمیم او غوښتنه نه درلوده ، خو دامریکایانو دغوښتني څخه وروسته یی دهغوی د اصرار په وجه دهغوی سره کتلي دي، ددوی د عامو ویناو په ځواب کي مو وویل چي تاسو دواړه عملی او دمنلو وړ طرحه نه لرئ . په دي اساس اوس دمذاکراتو لړی متوقف شوې ده »
دحزب امیر د کورنیو اړخونو سره دمذاکراتو په اړه داسي لیکي چي: مونږ د بهرنیو د وساطت او وصایت پرته دبین الافغاني مذاکراتوملاتړ کوو او همدا دحل یوازینی عملي لار ګڼو.
د حزب اسلامي امیر په هیواد کي دسولي په اړوند د کابل څخه دتلویزوني خپریدونکي شبکي ۱ سره په مرکه کي خپله طرحه داسي ر ا لنډه کړې :


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

جوابـ « ما برای حل بحران کشور طرح جامع و مبتنی بر واقعیت ها به نام (میثاق ملی نجات افغانستان) داریم، که راه حل واقعی و مطمئن بحران را ارائه می کند، بندهای اساسی این طرح اینها اند:
1. گروههای افغانی مطرح در جریانات کشور بدون وساطت جهت های خارجی به تفاهم بنشینند، و بر طرحی توافق کنند که ضامن خروج نیروهای بیرونی، خاتمه جنگ و تأمین صلح پایدار باشد و برای خروج نیرو های اجنبی تقسیم الاوقات قابل قبول ارائه کند.
2. از زمان اعلان این موافقتنامه تا پایان مدتی که در تقسیم الاوقات تحدید می گردد، نیرو های خارجی از شهرها و محلات مسکونی و همجوار با آن خارج گردیده و در قرارگاههای نظامی که برای استقرار موقت آنها تعیین می شود، مستقر می گردند.
3. امور امنیتی کشور بطور کامل به نیرو های امنیتی افغان سپرده می شود. نیرو های خارجی در هیچ گوشه افغانستان، تحت هیچ نامی و در هیچصورتی حق عملیات خودسرانه، تلاشی خانه ها و دستگیری افغانها را ندارد.
4. در این مرحله قدرت به حکومتی موقت انتقال می یابد که برای تمامی جناحهای افغانی قابل قبول باشد، اگر احیاناً توافق بر چنین حکومتی مقدور نباشد ما این را نیز می توانیم بپذیریم که انتخابات تحت اشراف حکومت فعلی برگزار شود؛ مشروط به این که به توافق همه؛ تغییراتی در آن ایجاد شود که از حالت کنونی اش بر آید و برای تمامی جناحها قابل پذیرش شود. در حکومت موقت باید کسانی نباشند که به فساد، خیانت ملی، دین ستیزی و جنایات جنگی متهم اند و در حلقه رهبری قوای سه گانه امنیتی کسانی قرار نداشته باشند که در حمایت از يك گروه علیه گروه دیگری جنگیده اند.
5. پارلمان موجود کشور مؤسسه ناکام، غیر مؤثر و دچار منازعات شدید داخلی بوده و از اکثریت ملت نمایندگی نمی کند، این پارلمان در مرحله موقت جایش را به شورای به نام (د ملی امنیت شوری) می گذارد که مشتمل بر هفت الی پانزده عضو بوده، به توافق تمامی جناحهای مؤثر تعیین می گردند، که صلاحیت تصمیمگیری در قضایای مهم ملی را داشته و مقر آن در کابل یا ولایتی می باشد که نیرو های خارجی در آن مستقر نبوده و امنیت ساحه بطور کامل در اختیار نیرو های امنیتی افغان باشد.
6. پس از خروج نیرو های خارجی؛ برای انتخاب رئیس جمهور جدید کشور، اعضاء ولسی جرگه و شوری های ولایتی انتخابات آزاد، همزمان و بر اساس نمایندگی متناسب برگزار می شود، طریقه کنونی انتخابات نادرست، ناقص، غیر عادلانه و ناسازگار با حالت جامعه ماست، مصارف زیاد و بیهوده را ایجاب می کند، شبیه به قمار بوده، باعث اتلاف وقت و امکانات می شود، زمینه را برای تقلب و راه یابی افراد ناصالح به شوری مساعد می سازد، شورای مشتمل بر نمایندگان يك اقلیت را ایجاد می کند، به ضرر اقلیتها بوده، کسانی که به نامزدان ناکام رأی می دهند از داشتن ممثل در شوری محروم می شوند و اکثراً اتفاق می افتد که مجموع آراء نامزدهای ناکام بیش از آراء نامزدهای موفق می باشد.»
که له یوه اړخه دحزب امیر اعلانوي چې دخبرو لړۍ متوقف شوي خو دبله اړخه د سولي عالي شورا چې د امریکایانو دمیلیونو ډالرو د هضمولو له پاره اخوا دیخوا لاس وپښې وهي ، په پرلپسی توګه د حزب د مرکز سره اړیکي ټینګوي اوتري غواړي چې یو هیئت ور واستوي ترڅو خبري اتري ورسره وکړي ، ددوی دبهرنیو اړیکو مسؤل هم د کابل میشت تلویزوني چینلونو څخه اوهم د بین المللي رسنیو په کومک دا خبره بیا بیا تکراروي چې په نزدي وختو کي به حزب اسلامي ددوي دسولي دپروګرام سره را یو ځای شي . معلومه نه ده چې دوی ولي خپلو ځانو ته نه ګوري چې ددوی حیثیت څه دی ؟ اوپه کوم ځای کې ولاړ دي ؟ او له ځانه سره څه لری؟
دحزب یو مسؤل مقام وایی چې د سولي دشورا تر نامه لاندي دغه وکړی په پرلپسي توګه تماسونه نیسي ، لیکونه را لیږي ، خو مونږ نه پوهیږو له دوی سره څه ووایو او یا دوی زمونږ له پاره څه لری ؟ فکر کیږي چې دا به یوه تبلیغاتي حربه وی چې غواړي دسولي دعالی شورا کمیسیون پرې خپل موجودیت ثابت کړي .
**د :** سولي له پاره د افغانانو له اړخه د جوړوشوو جرګګیو او بین المللي تولني ترمنځ خبري اتري:
د سولي له پاره دیو شمیر دردمندو ، پوهو او ځان ځارونکو افغانانو له اړخه یو شمیر کمیسیونونه جوړ شوي ، خو د معلوماتو له مخي دا جرګي یا کمیسیونونه کله کله د څو کسانو خواخوږي تر لاسه کوي اوکله کله یوازي په همغه وګړو کي چي دا جرګه یی جوړه کړي راخلاصه کیږي .
ددې جرګو له اړخه ، لکه څنګه چې مخته مو وویل ، اساسنامي ، دسولي وړاندیزونه او .....جوړې شوي ،خپرې شوي او اوس هم پرې کار کیږي . د شمال د سیکتاریستي ټلوالي له خوا هم دغسي یوه ډله په کار لګیا ده . چې مشري یی په غالب ګمان د مزار والي عطا نور کوي .
د سولي دکمیسیون تر نامه لاندي هم دغسي یوه ډله شته چې د سولي په خاطر خپل وړاندیزونه لری ، ددوې وړاندیزونه تر ډیره ځایه دحزب اسلامي د وړاندیزونو سره سر خوري .
د افغان ولس دسولي د شورا تر نامه لاندی یوښه ګروپ په امریکا اروپا او افغانستان کی فعاله دي ، دوی تر اوسه د امریکایی مقاماتو سره څو ځلي لیدني کړې ،د امریکا دسنا دکمیټي د غړو په ګډون ان د افغانستان اوپاکستان د ځانګړې نماینده ګروسمن تر معاونه یی خپل فعالیتونه رسولي . دوی د سولي په اړه خپل آند لري خو ترڅنګ یی غواړي د طالبانو او حزب اسلامی دسولي طرحي اوپلانونه هم د اړوندو کړیو ترمخ کیږدي . دې جرګی غوښتل چې د ۲۰۱۱


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

کال په نیمایی کې هلته په ترکیه کی د افغانانو یوه غونډه راوبولي خو دکابل درژیم دمخالفت په اساس د ترکیی حکومت د ژمنو سره سره له دې کار سره موافقه ونه کړه .
همدا راز یو شمیر نورې جرګګۍ هم شته چې فعالیتونه یې تر کابل او یا بهرنیو هیوادو د یوځو ټولنو پورې را نغاړل کیږي .
ه : په خپله دافغانانو د سولې د مختلفو جرګګیو ترمنځ خبرې اترې :
که څه هم د افغان ولس دسولې جرګه دهمدې له پاره جوړه شوې چې د سولې مختلفې ډلې ټپلې سره راټولې او دخپلمنځي خبرو اترو له لارې داسې یوه دریځ ته ورسیږي چې دهغې له مخې د بین المللی ټولنې سره پرې خبرې وشي او دهیواد دازادۍ او استقلال له پاره بیرته لاره همواره شي . دغه جرګه توانیدلې چې په امریکا اواروپا کی یو شمیر دغسې ټولنې په خپل ځان کې را ونغاړي ، خو دوسایلو نشتوالي دې ته زمینه نه ده برابر کړې چې دوی د یوه بین الافغانې کنفرانس له پاره ځان جوړ کړي .
و: دامریکایانو موخې او اهداف :
اوس به دامریکایانو نیت او موخې ووینو چې ایا امریکایان په ریښتیا هم زمونږ دهیواده د وتلو نیت لری او که هسې دخلکو تر مخه ددرواغجنو هیلو او د ذهنونو دبې لارې کولوله پاره یو تبلیغاتي سیلاب روان کړې .
دامریکایی لیونیو په واسطه د قندهار دپنجوایې دزنګارت دکلي د شهیدانو پیښی او تر څنګ یی د بګرام په بدنامه زندان کې دقران عظیم الشان دلسګونو نسخو سپکاوي اوبیا سوځولو د افغانانو په احساساتو ډیر بد اغیز کړی ، دهمدی احساساتو د څرګندولو په خاطر په هغو مظاهرو کې چې دعام ولس له اړخه تر سره شوې په لسګونو کسان د امریکایانو په لاسو دروزل شوو پولیسو له خوا په ګولیو سورې سورې شول او په شهادت ورسیدل . دا او دې ته ورته په لسګونو نورو پیښو و ښوده چې د افغانانو احساسات د اشغالګرانو په مقابل کې څومره ګرم دی ، دیو څو نا افغانه پلورل شوو وګړو پرته ، ټول ولس په دې متفق دې چې اشغال له منځه ولاړ شی او هیوادوال مو بیرته ازادي ترلاسه او پخپله دخپلې پریکړې خاوندان واوسي . امریکا او ناټو هم د افغانانو دا احساسات ښه درک کړې دي . که له یوې لورې دامریکایانو اوناټو داشغال په خلاف وسله وال مقاومت روان دې د بله اړخه دهمغې ملي اردو ځوانان چې دهمدې امریکایی ځواکونو له اړخه روزل شوې دخپلو استادانو او تربیه کونکو په خلاف راپورته شوې ، دا ټول دخپل هیواد ، دین او ولس سره د پیوند کیدو یو احساساتي پا څون دي ، د هیڅا په کنترول کی نه دي . په همدې اساس د ناټو غړې هیوادونه غواړي د افغانستان څخه څومره ژر چې کیدې شي خپلې پښې سپکې کړې . دوې اوس د خپلودرندو وسلو د انتقال له پاره لاره لټوي او دا لاره یا دپاکستان ناامنه لارې اویا دتاجکستان او روسانو باج ورکونکي لارې دی .
خودامریکایانو آند بل منګه ښکاري . دوې دزمکي دګرمیدو او سړیدو حالات په نظر کې نیسي . که څه هم دافغانستان درژیم واکمنو د امریکایانو او ناټو دغړو هیوادونو څخه غوښتې چې امنیتي مسئولیتونه تر ۲۰۱۳ کاله پورې افغان اردو اوپولیسو ته ورحواله کړي . او دامریکا ولسمشر اوباما هم په دې اړه ژمنه کړې ، خود امریکاد وسلوالو ځواکونو قوماندان جان الم بیا وایی چې امریکا به خپل ځواکونه د ۲۰۱۴ کال نه وروسته هم په افغانستان کې وساتي . هغه چې په دې وروستیو ورځو کې د سنا نظامي کمیټې ته راپور ورکاوه وویل چې په افغانستان کې برې ددوی دی. هغه دا دلیل وړاندې کاوه چې دادې مونږ د هلمند اوقندهار دولایت د یوشمیر ولسوالیو څخه په شا شوې یو خو هلته هیڅ پیښ نه شول . همدا راز مونږ د یو شمیر نورو ځایو څخه هم شاته کیږو او مسئولیتونه ملي پولیسو ته سپارو ، هلته به هم لکه د نورو ځایو په څیر هیڅ هم پیښ نه شی. هغه وایی چې مقاومت اوس هغسې نه دی لکه د پخوا په څیر ، پخوا به په پسرلي کی جنګونه ګرمیدل خو سږکال زمکه سړه ښکاري اودا زمونږ دبرې په لور یو قدم دي .
دجان الم دا خبرې د طالبانو سره دسیاسي خبرو او د طالبانو تر منځ دکشمکش دراپیدا کیدو په اساس کیږي همدا اوس پاکستان د طالبانو دغورزنګ څو کسه مشهور قومندانان نیولي اودهغوې اړوند کسان بې لاس و بې پښو په خپلو سیموکي منتظر ناست دي .
جان الم وایی چې دوې به په درې دلیلونو افغانستان پرې نږدی ، لمړی دا چې دوی باید هلته قوي او ځواکمن شتون ولرې ، تر څو د القاعدې دښکې فعالیتونه کنترول او خونثا کړاي شي . دویم ، دوی به پرې نږدی چې طالبان یوځل بیا په افغانستان باندې حکومت وکړي . او دریم دا چې دوې به تر هغې په افغانستان کی پاته کیږي چې ددوې په لاسو په افغانستان کي جوړ شوې نظام په خپلو پښو نه وې دریدلې او دکومې لورې دخطر سره مخ نه شی .
دجان الم خبره دا هم ده چې وایی : چې د افغانستان څخه زمونږ دځواکونو راوتل به په دی معنی وې چې مونږ به په افغانستان کې بیا هیڅ فعالیت ونه لرو ، زمونږ دیپلوماتیک کارونه به هم په ټپه دریږی او امریکایان به بیا هلته خپل فعالیتونه پر مخ نشی بوتللاي . په دې خاطر زمونږ شتون هلته زمونږ دستراتیژکو ګټو له پاره اړین دي .
دافغانستان د بحران دحل او دمخالفینو سره د سولې دخبرو اترو کومه لړۍ چې اوس پیل شوې وه ، هغه ، داسې بریښي چې د راتلونکي اکتوبر پورې معطل کړل شی . ځکه په هغه میاشت کې به دامریکا دنظامي چارو مسؤلین دخپلو بریاو په اړه راپور وړاندې کړي او دولسمشر اوباما له پاره به ښه چانس وي چې دموقع نه په ګټې اخستو سره ددوباره ولسمشرۍ دمقام د ترلاسه کولو په خاطر دولس ملاتړ تر لاسه کړي .


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدا راز د افغانستان سره د ستراتیژیک تړون لاسلیک هم دامریکایانو له پاره یو ډیرمهم سند ګڼل کیږی ، ان تر دي چې یو شمیر امریکایی لوړ پوړي چارواکي یی دامریکا زینت اوښایست ګڼي .

کرزي اودهغه درژیم غړي اوس په دی مسئله باندي په بیړه کار کوي او هغه دوه شرطونه چې دکرزی له اړخه ددې تړون د لاسلیک تر مخه ایښوول شوي وو دهغوڅخه یی یو دامریکایانو له اړخه منل شوي . کرزي دوه شرطه وړاندی کړی وو. په یوه کي ویل شوي وو چې ددې ډول عملیاتو د ویتو کولو حق باید دافغانانو سره وي داشرط امریکایانو له یوې مخې رد کړ. دویم شرط کرزی دا ایښودې و چې ددې ډول عملیاتو تر مخه دې د محکمې دکوم قاضي څخه حکم واخستل شی ، چې امریکایانو په خوشحالۍ سره ومانه . او ددي علت دادي چې د افغانستان په څیر په یوه دفساده ډکه اداره کي داسي قاضیان ډیر پیدا کیږي چې دڅو ډالرو معاش په مقابل کي هر ډول حکم دامریکایانو په لاسو کی ورکړي. ولو که هغه حکم د عملیاتو وروسته هم وی .

دستراتیژیک تړون لاسلیک کول به د افغانستان درسمي پلورلو په معنې وي . اولکه د زندانونو دانتقال دپروسي تړون چې دافغانانو ټول عزت ، هویت او استقلال یی په کی تر پښنو لاندي کړې او دامریکا دمزدورانو په څیر په کي تمثیل شوي ،په همدي توګه به په دي تړون کي هم افغانان اود افغانستان خاوره په رسمي توګه وپلورل شی.ترڅنګ به یی ددې تړون له مخې امریکایانو ته دومره واکمني ورکړل شي ،لکه د عبدالله او یونس قانوني د هغو اسنادو دلاسلیک نه چې ورته تر لاسه شوي وه ، چې په هغي کي یی امریکایانوته پرانستي لاس ورکړي و او هغوې ته دا ازادي ورکړل شوي وه چې د افغانانو په خلاف چې هرجرم او جنایت وکړي نو دهیڅ ډول عدلي تعقیب سره به نه مخامخ کیږي . څرګنده ده چې هغه یو کوچني سند وو ، خو ستراتیژیک سند به د هیواد د ټولې خاوري د واکمنۍ سند امریکایانو ته د ورسپارلو په معنې وي .

ویل کیږي چې ددې تړون په اړه د کرزي په چاپیریال کي سخت کشمکش روان دي . غرب پلوه پلورل شوي عناصر غواړی دخپلی بقا او په واکمنۍ کې دپاته کیدو له پاره هر ډول ذلت ته سر کیږدي . تر څنګ یی دشمال ټلواله اوس هم دبهرنیو ځواکونو په مزید پاته کیدا ټینګار کوي .

د الجزیري د تلویزنی شبکي دخبر له مخې چې په دي اړه د بهرنیو چارو د وزارت د سیاسي معاون ښاغلي لودین او د کرزی د دفتر درئیس ښاغلي خرم ترمنځ فزیکي کړپ هم راغلي . دغه شبکه په خپل ځانګړی خبر کي لیکي چې دا کړپ هغه وخت رامنځته شو چې کرزی د امریکایی ولسمشر اوباما سره د تیلفوني شبکي له لارې خبرې کولې .
په دي خبرو کي په کابل کي دامریکا سفیر او تر څنګ یی د نظامي ځواکونو قومندان هم ناست وو . د وقفي په وخت کي کرزي ووت . په دي وخت کي ښاغلي لودین چې دزلمي رسول د اداري کمزورتیاو په اساس د وزارت په ټولو اموراتو ولکه لري اوغواړي د غربیانو د اشتیاق سره سم د دغه تړون دلاسلیک له پاره زمیه برابره کړي د ښاغلي خرم دسخت برخورد سره مخ شو . ان تر دي چې خرم ورته وویل چې « پلار به دی یی هم را نه دا کار و نه کړي » په دي باندی ددواړو اړخونو تر منځ خبره وا وخته او فزیکي لاس اچوني ته خبره ورسیده چې بیا دامریکي سفیر او دنظامي قواو قومندان مداخله وکړه اودوي سره خلاص کړل . خبر مخته لیکي چې دې دواړو یو بل د پاکستان او امریکا په جاسوسیو هم متهم کړل ........

ترڅنګ یی د کرزی امنیتي سلاکار رنګین سپنتا چې ویل کیږي ددې تړون د نه لاسلیک په خاطر یی څو ځلي په فرمایشي توګه استعفا هم کړې ، په دي مسئله باندی دلاسلیک کولو ټینګار کوي .

خو دا باید ډاګیزه وي چې ددې تړون لاسلیک کونکي به دافغانستان دتاریخ په تور باب کي ځانګړې ځاې ولری اومرتکبین به یی ، که وخت موقع ورکړه او ولسي ځواکمن حکومت رامنځته شو ، دمحاکمي میزته راښکودل شي

.

په دې اړه به ښاغلي کرزي ، دبهرنیو چارو وزیر زلمي رسول اود ولسي اومشرانو جرګي هر وګړي چې هلته د ولس د نماینده په څیر ناست وي دداسي یو مجرمانه تړون دلاسلیک په صورت کی به دولس په محکمه کې مجرم ګڼل کیږي .

خو امریکایان هوډمن دي چې داتړون د مۍ دمیاشتی تر مخه لاسلیک کړل شي ، ځکه د مۍ په میاشت کی دامریکا دشیکاګو په ایالت کی د ناټو دغړو هیوادونو غونډه جوړیږي او امریکایان غواړي دا سند دې غونډي ته ور وړاندي کړي . که څه هم کرزی ددی سند د لاسلیک په خاطر د خپل ولس د اذ هانو د جوړولو له پاره څو ستراتیژیک تړونونه نور هم لاسلیک کړل ، خو دا باید ډاګیزه وي چې اوسنې رژیم ددي تړون دلاسلیک واک او ځواک ، چې دسر نه تر پښو پورې قلابي شمیر ل کیږي ، نه لري.

دامریکایانو ترمخ یو بل فکتور دایران اوسني دریځ دي . ایرانیانو چې دافغانستان د اسلامي انقلاب سره څومره خیانت کړې هغه دتاریخ یو تور باب جوړوي . دوي د خمیني نه نیولی تر خامینه ای او نژاد پورې ټول دافغانستان اوپه ځانګړي توګه د پښتون ولس او حنفي سني مذهب سره سخته دښمني او کرکه لري . دروسانو داشغال په وخت کي یی یو شمیر افغانانو ته پناه ورکړه ، خو ټول یی دبشري اړینو حقوقو څخه بې برخي کړل. دانقلاب دبري په وخت کی یی دشمال ټلواله په دې خاطر رامنځته کړچې خپل شیعه اقلیت پرې خوندي وساتي . او دیوه ځواکمن سوني مذهبه اسلامی حکومت د جوړښت مخه و نیسي ، دپښتنو په خلاف یی کرکه هغه وخت ډیره را څرګنده شوه چې


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دوخت ولسمشر رفسجاني د شمال دټلوالي دهیئت غړو ته چې یو پښتون هم په کی ناست وو ، وویل چې « مونږ خو همدومره کولاې شو دا شریر پښتانه د واک نه لرې وساتو ، اوس نوستاسو دنده ده چې په دي لاره کی څه کولې شئ ، وایی چې دهیئت مشر ورته وویل چې زمونږسره هم په دي ډله کی یو پښتون ناست دې . هغه سمدستي خپله خبره بدله کړه او ویی ویل چې نه ، ما د هغه ګلبدین شریره ډله ښووله ...
ایران اوس په افغانستان کی هم ددولت سره همغاړې دي او هم دمخالفینو سره اړیکي لري . ددولت مسؤلینو ته بې شمیره ډالري خلطي راځي ، د بهرنیو چارو او د اطلاعاتو اوکلتور د وزارتونو په ګډون یی ګڼ شمیر وزار تونه په خپل واک کي دي ، ګڼ شمیر تلویزوني چینلونه او ګڼ شمیر خپرنیزي ورځپاڼي او اونیزي د پیسو په زور خپریږي ، دپارلمان یو شمیر غړو ته معاش ورکوی ، دشیعه ګانو له پاره مکاتب ، ښارګوټي اوپوهنتونونه جوړوي اود ولکي له پاره یی په زغرده جنګ کوي . کله کله انسان حیران شي چې زمونږ دهیواد اصلي واکمنان امریکایان دي که ایرانیان . څکه په کابل کي د ایران سفیر هم د وایسر اي پیښي کوی چې په دی اړه د اریانا د تلویزون دتکړه غړي فیاض مرکه لا تراوسه زمونږ په ذهنونو کي انګازی کوی .
ایران د طالبانو د منصور دځواکمني ډلي په ځواکمن کیدو کي ډیر رول لري ځکه ددي جرړې ان تر مرحوم مولوي منصور پورې رسیږي . خو ایران ددوي نه غواړی چې د سونیانو اوپښتنو په وژلو کی مو چې هر څومره وسایل په کار وې وایی خلې خو د شیعه اوهزارګانو سره به کار نه لرئ .....او همداسي کیږي هم .
اوس ایران دیوي بلي لارې غواړي رامخته شي . ایران داتمي وسلو له اړخه دبین المللی فشار لاندی دې ، اسراییل بیا بیا غورزې پرزې کوی چې د ایران په اتمي بټیو یرغل یوسي خوامریکایان ورسره په دي خاطر مخالف دی چې ایران به په افغانستان اوعراق کی دهغوې دځواکونو مراکز تر فشار لاندی و نیسي . امریکا دومره بې زړه هیواد دی چې کله هم د تهدید سره مخ کیدونکی شي نوبیا په شا ځي . په همدې اساس امریکایان نه غواړي په اوسنۍ مرحله کي ایران تر نظامي فشار لاندی ونیسی خو ایرانیان غواړي امریکایان د نظامی فشار لاندي و نیسي ، او ددوي له پاره ددې کار د ترسره کولو غوره ځاې د افغانستا ن خاوره ده .
د ایران دپاسدارانو ستر قومندان اولوی درستیز څو ورځي مخته په داسي حال کي په افغانستان کی دامریکایانو پرخلاف د نوو جبهاتو د جوړولو له پاره غږ وکړ چې دایران پخواني ولسمشر خامیني څو څو ځلی ویلی چې که دایران همکاري نه وي نو امریکایانو به هیڅکله هم په افغانستان ولکه نه وې کړې . دوې له یوه اړخه د امریکایانو سره خپله بسپنه اعلانوي دبله اړخه غواړي د یولس کالو دتیریدو وروسته په افغانستان کي د امریکایانو په خلاف نوي جبهي پرانزي . غواړي خپل جنګ افغانستان ته را نقل کړي . غواړي په افغانستان کي خپل لاسپوځي په کار واچوي او امریکایان همدلته مصروف کړی ، او لکه څنګه یی چې اسرائیل دخپلو فلسطیني لاسپوڅو په واسطه هلته دغزې په تراړه کی مصروف کړي په دي توګه امریکایان همدلته مصروف کړي . دوي دبشار دوحشي رژیم څخه په دي خاطر دفاع کوي اوخپل پاسداران هلته د سوریی د مظلوم ولس دوژلو له پاره ور استوي چې هغه هم علوي شیعه دي ،خو برعکس په نورو هیوادو کي ولسونه د قیام له پاره هڅوي ، اودا هم په داسي حال کي چې د افغانستان د ولس قیام که خداي کول پایلو ته نزدی کیدونکي دي ، او امریکایی ځواکونه به ددي ټولو لاپوشاپوسره سره بیاهم ددي هیواده خپلې پښې سپکوي .
پایلي :
داسي بریښي چې امریکایان د افغان ولس سره د (Stick and carrot) لوبه کوي . دوي د نړیوالو اوپه ځانګړې توګه د افغانانو د اذهانو سره رواني لوبی راخستی ، له یوه اړخه د افغانستان څخه د وتلو خبره کوي ، اووایی چې تر ۲۰۱۳ پورې به امنیتي مسؤلیتونه افغانانو ته ور ورسپاري ، او پخپله خپل ځانونه را غونډوي ،ترڅو د ۲۰۱۴کال دمهال ویش په مطابق دافغانستان څخه خپل فوځونه وکاږي . خو دبله اړخه یی نظامي مشران وایی چې دافغانستان څخه دوتلو په اړه ان تر ۲۰۱۷ کاله پورې فکر هم نه کوي ، خپل ځواکونه به راکم کړی او اوس هم دادي دهغوې دکمښت په اړه کار کوي خو افغانستان به له یوې مخې ځانته پرې نږدي .
د جنګ په اړه په امریکاکي دوه ډوله آندونه شتون لري ، عمومي ولس یی په هرو لسو کسانو کي شپږ دجنګ په خلاف دي ، اوسنۍ سروې چې د اي بي سي له اړخه تر سره شوي وایی چې ډیره کي امریکایان د افغانستان دجنګ د اوږدیدو سره مخالف دي او څرګندوي چې دا جنګ په دي نه ارځي چې مونږ په کي خپل ځوان هلکان اونجوني له لاسه ورکړو .
د بله اړخه د جمهوري غوښتونکو ګوند هم د سخت تشنج سره مخ دي ، دوي په دي دومره موده کي و نه شو کولاې چې د ولسمشر اوباما په مقابل کي یو تکړه او غښتلي کاندید رامخته کړي . دافغانستان د جګړې په اړه ددوي داوسنیو موفقو کاندیدانو آندونه هم یو د بل سره پوره توپیر لري . دنموني په توګه رامني په اوباما باندي نیوکه کوي چې ولي یی دافغانستان څخه دخپلو فوځونو د ویستلو مهال ویش اعلان کړې دې خو بیا یوبل کاندید وایی چې هغه به که سپیني ماڼۍ ته ورسید ، سمدلاسه دافغانستان د جګړې پاې اعلان کړي او خپل ځواکونه به دهغه هیواده را وکاږی . اما خبره داسي نه ده . په امریکا کي هم دپالیسیو جوړونکي ځواک دهغه هیواد جاسوسی اداري او نظامي


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ځواکونه دي . په دي اساس د امریکا ددفاع وزارت اوپه ځانګړې توګه نظامي جنرالان یی د زمکنیو واقعیتونو د په نظر کي نیولوسره پریکړه کوي او اوس دا پریکړه همدوې ته ورپه غاړه هم ده .
ددې ترڅنګ زمونږ په هیواد کي دامریکایی ځواکونو جرایم او د ولس په خلاف ددوې حیواني کړچار ورځ په ورځ را ډاګیزه کیږي . دقران عظیم الشان د سپکولو اوسوځولو وروسته ، دمظلومو شهیدانو په مړو باندی متیازي کول اوبیا دقندهار دزنګاوت دکلي په خوب ویدو کوچنیانو ښځو او نرو باندی ترور او وحشت اودهغوې له منځه وړل یی وروستي کړني دي چې د نړیوالو تر مخه دي .
امریکایان په دي هڅو کي هم تر یوه ځایه بریالي معلومیږي چې زمونږ د ځوان کوول په کلتور او مذهب کي بدلون راوړي . نن د افغانستان دمرکزي ښارونو ځوانان (هلکان اونجوني ) د سختو بداخلاقیو په لور روان دي او د ښځو دازادئ تر نامه لاندي چې کوم فسق او فجور په ټول ولس کي خپور دي نمونه یی د هیواد په تاریخ کي ډیره کمه تر سترګو کیږي .
همدا راز یوشمیر مافیایی کړئ چې د ولس په مقدراتو باندی یی د خپلوځانو دپلورلو په واسطه منګولي ښخې کړي او دشپي شپي د میلیونو ډالرو او په دوبئ او نورو هیوادو کي دقصرونو خاوندا ګرزیدلي هم نه غواړي امریکایی ځواکونه دهیواده بیرون شي . دکرزي یو مشاور او ډیر معتبر کس ددي شنني لیکونکي ته وویل چې حاضر نه دي امریکایانو ته مشوره ورکړي چې د افغانستان څخه په مکمله توګه بیرون شي ، که دوي ووځي نو مونږ چاته پریږدي . په دې لړ کی د ښځو یو شمر کړئ هم دمدني ټولنو تر نامه لاندي همداسي تبیلغات کوی .
ایرانیان هڅه کوي دپخوانیو تجربو څخه په ګټې پورته کولو سره د ۱۹۹۲ حالات بیا تکرار کړي، دغه هیواد هغه وخت چې دافغانستان اسلامي انقلاب بري ته ورسید او هیواد ددي جوګه کیده چې دیوه منتخب حکومت د جوړښت له پاره ځان تیار کړي ، د یو شمیر فاسدو عناصرو په اخستو او د خپل ولس په خلاف د هغوي د جنګولو هڅې وکړي اوپه دي هڅو کي یی هند او روسان ملاتړي وو .
دایران دپاسدارانو دلښکرو مسؤل اومشر چې غواړي لس کاله وروسته په افغانستان کي دامریکایانو په خلاف نوي جبهات تشکیل کړي او غواړی دخپل ولس جنګ زمونږ د مظلوم ولس غلبیل شوو سینو ته منتقل کړي ، او د امریکایانو او ناټو دغړو هیوادونو دا تاریخي ماتي چې زمونږ دولس د ځوانانو په وینو به انشاءالله تر سره کیږي ، اوپه پایلو کی به یی د ولس د خوښي یو مستحکم اسلامي نظام منځته راځي ، اختطاف کړي او پرې نه ږدي چې افغان ولس دخپلي خوښي ددغسي یوه نظام خاوند شي.
په دي اساس هغه څه چې هیله یی کیږي هغه دادي چې داستقلال او ازادئ له پاره د راولاړ شوي مقاومت ډلي ټپلی که هغه حزب اسلامي او طالبان دي او که نورې ډلي ، ټول په متحده توګه یوه مشترکه ستراتیژي جوړه کړي ، زمکني حقایق تر خپل کنترول لاندي راوړي ، او دهمدي ستراتیژئ له مخی بهرني ځواکونه دخپلې خاورې څخه وتلو ته مجبور کړي .
دمقاومت لیکي باید متوجه وي چې د یوه ستر نړیوال داسي ځواک سره مخ دي چې په دي کارونو کي ډیره تجربه لري . هغوي غواړي لکه څنګه یی چې دحزب اسلامي څخه یو شمیر غړي دکابل په رژیم کی ورننویستل اودهمغوې څخه اوس دخپلو موخو د ترلاسه کولو په خاطر کار اخلي په همدي توګه د طالبانو دغورزنګ یو شمیر کسان هم یو دبل په خلاف د سیاسي خبرو اترو اویا نورو مسایلو له مخي واخلي او دطالبانو غورزنګ هم دکمزورتیا سره مخ کړي .
ټولي سیاسي ډلي ټپلي باید درک کړي چې بهرني ځواکونه به دافغانستان څخه وځي ، دا چې کله به وځي دا نیټه او مهال ویش به ورته زمکني حقیقتونه را بربنډوي ، خو په هرصورت دوې تل په افغانستان کی پاته کیداې نه شي ، نو په دې اساس ټول سیاسي ځواکونه باید دخپلمنځي تفاهم له لارې په داسي یوې طرحه باندی چې دبهرنیو ځواکونو وتل سهل او دافغانستان ازادي اواستقلال خوندي وساتی سره را ټول شي ، په دی لاره کي که بله کومه موزونه طرحه نه وي نو د حزب اسلامي له اړخه ۱۵ ماده یی طرحه خویی دبحث له پاره په مخکې پرته ده .
ژوندي دې وي افغان میړني اوویاړلي ولس

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ